
# دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوايي لاندې

لاس و پښـي چـاودي مـخ سـپېره شـونډي وچـې يـو کـوچنی پېټـی غـنم يـې پـر شـا را اړولـي وو او پـه سـتمي د کـور پـر لـوري را روان دی، بشـپړي نهـه مياشـتي يـې خـواري کښـلې ده او منتونـه يـې وړي دي، تـر څـو چـې پـه اخـري دوبـي (۹۰) منـه غـنم لـه بزگـرۍ نـه ورغلـل پـه دې کـي يـې (۹) منـه غـنم ملا صـاحب تـه زکـات ورکـړل، (۳۰) منـه يـې پـش تـه ورکـړل او څلـور منـه هـم (رقبـه) ترېنـه يـوړل، (۲۰) منـه يـې د هغـو دوو زرو افغـانيو پـه سـود کـي ورکـړل کـومي چـي د ده د پـلار د مـرگ د خيـرات او اسـقاط لپـاره د يـوه سـودخور نـه پـه شـپېته منـه گټـه راوړي وې، پـه کـور کـي د ده ماينـه او مـور او څلـور ماشـومان د ده لاره څـاري او ماشـومان يـې لـه کـوره راوتلـي او د هغـې لاري خواتـه پـه ډېـره اسـره گـوري، پـر کومـه لاره چـي د دوی پـلار اوس کورتـه راځـي او د رشـې غـنم راوړي، د ده مـور او مـاينې د سـر کـال د محصـولاتو پـه شـاوخوا کـي خـورا ښـې خـوږې کيسـې کولې او هيلـه يـې وه چـي گونـدي سـږ بـه يـو څـو ورځـې پـه نـس مـاړه سي، پـه دې وخـت کـي ماشـومان يـو پـه بـل پسـې د کـور لـوري تـه راځغلي او ناري وهي چي بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزگـر هـم پېټـی پـه شـا پـه کـور راننـوت او پېټـی يـې د خـوني لـه مخـه کښـېښـود، مـور او مـاينې پـه الوتـو ښو ترېنـه د رشـې احـوال پوښـته چـي پـه دې وخـت کـي يـو سـړی تـرازو او کـاني پـه لاس پـه انگـړ راکښـېووت او پـه کلک ږغ يې ورتـه وويـل چـي: "تـا خـو ويـل پـر راشـه بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ويل يې چي دا ځلور پنځه مياشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لرې ژر شه غنم راوتله، مور يې چيغي کړې چي دا څو دانې چي ته يوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وويل خاوري!".

سم د لاسه يې اندی راواړاوه او ټوله غنم يې ځيني وتلل او په پای کي يې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وويل چي: "دو نه منه خو لا نور هم درباندي پاته سول هغه به څرنګه سي".
خوار بزګر په داسي حال کي چي له ځواشينۍ نه يې پر ستوني درد وو، تش جيوال و ځانده او يوې خوا ته يې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي يې وويل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به يوه لپه نيني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او يو څه شفتل يې په پلو کي راوړه او له مالګي سره يې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې ترډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره يې په ژړا پيل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډيانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له يوې خوا د ده ګاونډيانو هم دغه راز د ناداری تکليف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي يو دوې کاسې اوړه ترينه پور کړي وو هغه يې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار يې بايللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر يې وکړ، له ځانه سره يې فيصله وکړه چي د يوي غوييي چي د ده وروستنۍ او يواځنۍ دا رايي وه د هغه په مرسته يې د خلګو بزګري کوله د عيال د قوت او لايموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي يې د مور او ماينې رضايت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چي د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لځي پښې پړانګي کالي بلي منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کي شپږ مياشتي د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځي شپږ افغانۍ ورکولې، چي درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پای کي د ده ټوله ګټه (۴۲۸) افغانۍ سوه، چي په (۳۰۰) افغانۍ يې ځانته پنې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دی شپږ مياشتي په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او بنه زړه د کور لوري ته راروان سو چي د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغي کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چي مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په مني لا مړه سوي دي، يو ګړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چي: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مي ورکړي دي چي قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کېږي او هم مي ستا پر ځای په دې شپږو مياشتو کي (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړې دي، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دي پر موږ راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چي (۷۴۲) افغانۍ کېږي راکړه" ځکه چي ده دا ټول رقم پر يو ځای نه شو تاديه کولای نو محکمي ته يې کښ کړ او بندي شو چي بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست[10]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

---

[10] اوسني ليکوال لومړی ټوک

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**